دوکتور م ، ع ، روستار تره کی

د اساسی قانون د لسیزی د کلیزی په مناسبت
( کولن ـ آلمان ـ نوامبر ۱۹ ، ۲۰۱۰ م کال)

# د اساسی قانون د لسیزی
# د ناکامیدو لاملونه
## (د دیموکراسی په لسیزه باندی نوی سیاسی کتنه)

د افغانستان په سیاسی تاریخ کی پنځوسمه او شپیتمه میلادی لسیزه د سیاسی لیبرالیزم او دیموکراسی د ارزښتونو د پلی کولو په مقصد ځانګړی ځای لری :

په پنځوسمه لسیزه کی د شورا اومي او اتمي دوري د مطلقه نظام په وړاندی سر را پورته کړ . د محصلینو د اتحاديي ، مطبوعاتو ، ښاروالی او د انتخاباتو قوانینو د تنظیمیدو لـه لاری د سیاسی ګوندونو د جوړیدو ذهنی او عقیدوی زمینه مساعده شوه .

په شپیتمه لسیزه کی ( ۱۹۶۴ ـ ۱۹۷۳ م ) افغانستان د خپل سیاسی ژوند نوی پړاو تـه ورننوت : د ۱۹۶۴ م کال اساسی قـانون د هغی سیاسی او مدنی لاس تـه راوړنـی پـه بنسټ باندی تنظیم شو چه زمینـه یی پـه مخکنی لسیزه کی برابره شوی وه .

خو پـه دواړو لـسیزو کی دیموکراسی د خلکو د مبـارزی محصول نـه وو . هغه د بهرنیو تـر فشار لانـدی یـا د سلطنتی کورنی تر منځ د اختلاف په وجه د سیاسی مشرتابه لـه خوا ولـس تـه ډالی شوی او پـه چټکـی د واکمنی ډلی د سیاسی مصلحت لـه مخی بیرتـه اخیستل شوي. د دی خبری معنی دا ده چه پـه افغـانستان کـی پـه دواړو حالاتو کی د دیموکراسی د داعیی د تحقق په اړوند ، تولنیز چاپیریال مساعد نه وو .

**لمړی ـ د اساسی قانون د لسیزی کورنی او بهرنی چاپیریال :**

په شپیتمه لسیزه کی د افغـانستان د ننـه او د باندی مهمو پیښنو د ۱۹۶۴ م کال د اساسی قانون پـه تنظیم باندی مستقیم یا غیر مستقیم اغیز درلود .

## الف ـ د افغانستان د ننه :

۱ ـ پاچا غوښتل چي د افغانستان او پاکستان تر منځ د پښتونستان په سر باندی شخړه چه په ۱۹۶۱م کال کی افغانستان ته د پاکستان د خاوری نه د ترانزيتی لاری د بنديدو لامل وګرځيد ، د پاکستان په وړاندی د پاليسی د بدليدو په مقصد ، سردار داوود د صدارت څخه استعفآ ته اړ کړی : د نوی اساسی قانون تنظيم دا زمينه برابروله چي د پښتونستان داعيه د سلطنتی کورنی د انحصار نه وباسی او هغه د انتخابی حکومتونو د لاری مطرح کړی .
د شورويانو په لاس د افغانستان په اوضاع باندی د نفوذ د اِعمال وسيله د افغانستان د خلک ديموکراتيک ګوند ( ا ، خ ، د ، ګ ) وو . شورويانو د نوموړی ګوند د لاری د پښتونستان د داعيی د ملاتړ د دريځ نه ځانونه هغه ځينی حکومتی او سياسی کړيو سره رانږدی کړل چه د ديموکراسی په لسيزه کی مطرح وو .

۲. د سلطنتی کورنی په منځ کی کړکيچ د نوی اساسی قانون د تد وين يو لوی لامل ګڼل کيږی. سردار داوود د صدارت نه د خپلی استعفاء په درشل کی شاه ته د نوی اساسی قانون د تدوين وړانديزوکړ . پاچا د نوی اساسی قانون د تدوين فرمان صادر کړ خو د سردار د جاه طلبی نه د ويری په سبب په هغه کی د سلطنتی کورنی د غړيو د تعريف په چوکات باندی ، د سردار هغه پلان چه د سياسی ګوند د جوړيدو د لاری ځان قدرت ته ورسوی ، شنډ کړ * .
د نوی اساسی قانون په تدوين سره افغانستان د سياسی ديموکراسی د آزموينی يوه نوی پړاو ته ورننوت . اما سردار چه ځان د سلطنت د توطيی قربانی ګاڼه په يوه خطرناکه لوبه کي ځان راګډ کړ : د چيپانو په مرسته د قدرت د قبضه کولو په لټه کی شو .
په هر حال ! د سلطنتي کورنی په منځ کی کړکيچ په افغانی دوديزه طبعي تولنه کی د سلطنت مشروعيت ، بشپړتيا او پياوړتيا ته سخت تاوان ورساوه . افغانستان د سياسی او ټولنيز کړکيچ سره مخ شو چه د پرديو د اشغال ، کورنی جګړی او بهرنی لاس وهنی لامل وګرځيد .

## ب ـ د افغانستان د باندی :

افغانستان د ملګرو ملتونو د سازمان او د ناپيیلی هيوادونو د غورځنګ غړی وو او د سنتو (عراق ، ايران او پاکستان) د پکت په ګاونديتوب کی يي موقعيت درلود .
د افغانستان د نوی اساسی قانون د تنظيميدو په درشل کی سړه جګړه اوج ته رسيدلی وه . د کمونستي نړی په شاوخوآ کی د لويديزوالو امنيتی کمربند راتاو شوی وو.
لويديز هيوادونه د نظامی اتحاديو په جوړولو کی چه په کي د ديموکراسی اصول مراعات شی د کمونيزم کمپ د توتاليتر(انحصاري) سياست سره په مقابله بوخت وو . خو افغانستان په سياسی لحاظ د يو مطلقه نظام د لاری اداره کيده او په نظامی ساحه کی يي د لويديز د امنيتی کمربند نه لری په کمزورډريز کی قرار درلود .
د افغانستان نړيوال باور او موقعيت د هغه د کورنی سياست سره چه استبدادی بڼه يي لرله اړخ نه لګاوه : پدی معنی چه د اساسی قانون د لسيزی نه مخکی د شورا د اومي او اتمي دوری سياسی فعالين او د محصلينو د اتحاديي ځينی غړيو د کابل په زندانونو کی شپې او ورځی تيرولی .
د افغانستان نوی اساسی قانون په دغسی شرايطو کی نافذ شو چي د ( ا ، خ ، د ، ګ ) د شورويانو په ملاتړ د افغانستان د سياسی صحنی غير رسمی مخکښ لوبغاړی ګڼل کيده . نوموړی ګوند د اساسی قانون په لسيزه کی د

حکومت سره د سیالی وړتیا او د سیاسی پیښو په رامنځته کیدو کي نوښت په لاس کی درلود . ( ا ، خ ، د ، ک ) سردار داوود چه د سلطنت په غیږ کی ئي سیاست زده کړی وو او د خپل سیاسی متحدینو په چل او ول پوه نه وو ، د سلطنت په وړاندی تحریکاوه او آن استعمالوه .

نوموړی ګوند په امنیتی اورګانونو کی چه مخکی تر مخکی په کی د شوروی نظامی مشاورینو او په شوروی کی روزل شوی افغانی نظامی کدرونو ځاله جوړه کړی وه خپل نفوذ ته پراختیا ورکوله .

حکومت د ( ا ، خ ، د ، ک ) لخوا شخړو ته د لمن وهلو په وړاندی د شورویانو د منفی غبرګون د ویری نه بی وسه وو .

په سیمه کی د سنتو په غړیو هیوادونو کی کمونیستی ډلی تپلی تر فشارونو لاندی وي خو په افغانستان کی کمونیستانو ته د نوی اساسی قانون د لاری د اصولی او رسمی فعالیت لاره هواریده .

افغانی واکمنو ډلو چه د افغانستان د ناپیلتوپ پندوره غړوله او هیواد یي د بهرنی امنیتی پوښښ نه لری ساتلی وو د ( ا ، خ ، د ، ک ) یعنی د پنځم تیر د خطر نه غافل وو .

## دوهم ـ نوی اساسی قانون :

په افغانستان کی د دیموکراسی د دوهمی آزموینی ( د اساسی قانون لسیزه ) ، ناکامیدو دوه لاملونه لری :

- د دیموکراتیک اساسی قانون د ظوابطو د پلی کولو په مقصد د تولنیز مساعد چاپیریال نشتوالی ، او
- په اساسی قانون کی تشي او نیمګړتیاوي .

### الف ـ د اساسی قانون د پلی کولو ناوړه زمینه :

بیلابیل لاملونه د اساسی قانون د پلي کیدو د ناکامیدو سبب وګرځیدل :

۱ ـ افغانی تولنه د طبیعت په لحاظ د انظباط اوخشونت ( کړکیچ) په منګولو کی جوړښت موندلی او اداره شویده .

په افغانی تولنه کی اساسی قانون هیڅکله پدی ندی بریالی شوی چه طوفان ځپلی افغانی تولنه د خپلو ضوابطو او الزاماتو په چوکات کی مقیده وساتی .

په افغانستان کی د خپلواکی نه راهیسی ، ۶ اساسی قانونونه نافذ شویدي . خو یوازی د ۱۹۳۱ م کال اساسی قانون پدی وتوانیده چه سیاسی قدرت په سوله ایزه توګه د نادر شاه نه ظاهر شاه ته منتقل کړی .

۲ ـ د یوه اساسی قانون د تطبیق ولسی ضمانت ، منځنی طبقه جوړوی .

د اساسی قانون په لسیزه کی تجارتی پانګوالی په صنعتی پانګوالی اوښتي نه وه .

له دي کبله منځګړی طبقه کمزوری وه . زده کړه او سیاسی شعور په ټیټه کچه کي پراته وو .

۳ ـ په افغانستان کی د اساسی قانون د اعلام نه مخکی ګوندی سیستم موجود نه وو . خو ( ا ، خ ، د ، ک ) د شورویانو په ملاتړ په غیر رسمی توګه په آرامی خپل نفوذ ته د زده کړي په مؤسساتو او امنیتی اورګانونو کی پراختیا ورکړی وه .

د ( ا ، خ ، د ، ک ) عقیدوی اصول د افغانی تولنی د دوه محورونو یعنی اسلام او ناسیونالیزم سره په تقابل کی وو . نو له دي کبله شورویانو او ( ا ، خ ، د ، ک ) په هغي دیموکراسی باندی باور نه درلود چه د ولس د رای په

بنست باندی تینګه شی . خو دواړه دی ټکي ته ډیر لیوال وو چه د اساسی قانون په نافذیدو سره (ا ، خ ، د ، ک) د رسمی فعالیت تجویز تر لاسه کړی .

د اساسی قانون تنظیم کونکو د ( ا ، خ ، د ، ک ) د فعالیت د مخنیوی په مقصد په خپل دوه دیرشم حکم کی هغه ګوندونو ته چه عقیدوی موخی یی د اساسی قانون د ارزښتونو یعنی اسلام ، ناسیونالیزم او سلطنت سره په ټکر کی نه وي ، د فعالیت اجازه ورکړی وه خو ( ا ، خ ، د ، ک ) د چل ول په کارولو سره د دیموکراسی په لسیزه کی د سیاسی صحنی مخکښ لوبغا ړي وشمیرل شو او په ځینی برخوو کی یي د غمجنو سیاسی پیښو نوښت په لاس کی درلود .

د ( ا ، خ ، د ، ک ) پدی بریالی شو چي دیموکراسی او آزادی، د دیموکراسی او آزادی په ضد وکاروی .

## ب ـ د اساسی قانون تشي اونیمګړتیاوي :

١ ـ د سلطنتی کورنی شخړو ته مشروعیت ورکول :

د ١٩٦٤ م کال اساسی قانون چه د سلطنتي کورنی تر منځ د کړکیچ او ټکر محصول ګڼل کیږی ، د سلطنتی کورنی د خپلمنځي منازعی په یوه وسله بدل شوی وه . په اساسی قانون کی د سلطنتی کورنی غړی تعریف شوه تر ځو چه سردار داوود د سیاسی صحنی نه لری وساتل شی .

د سلطنتی کورنی شخړو ته د اساسی قانون په کچه مشروعیت ورکول ، د اساسی قانون د مؤسسانو لویه تیروتنه وه . نوموړی تیروتني د سلطنت بشپړتیا ، محوریت او مشروعیت او په پاي کي د هیواد سیاسی ثبات ته پدغسی شرایطو کی سخت ګوزار ورکړ چه افغانستان يي د اساسی قانون له لاری د دیموکراتیک مشروعیت په راوستلو کی ورتیا نه درلوده .

د اساسی قانون د اعلان نه وروسته له یوی خوا د سلطنتی کورنی په منځ کی کړکیچ لا زیات ژور شو او له بلی خوا د ټولنی په کچه د اساسی قانون د پلي کولو په اړوند د سیاسی کړیو او پاچا تر منځ نوی اختلاف د زیږیدو په درشل کی شو : سلطنت اساسی قانون د یوي تکتیکی سیاسی وسلي په توګه کاروه نه د دیموکراسی د پلی کولو د ستراتژی د یو افزار په توګه . نو له دي کبله يي د اساسی قانون خلاف همیشه په حکومتی او پارلمانی چارو کی مداخله کوله . اما سیاسی کړیو د حکومت او پارلمان د ننه یا د باندی د اساسی قانون د مراعاتولو په دریځ کی قرار درلود .

## ٢ ـ د اساسی قانون د لاری د لویی جرګی تنظیم :

د دیموکراسی په لسیزه کی په لمړی وار د دودیزی لویي جرګی ترکیب او جوړښت په اساسی قانون کی په پام کي ونیول شو ( پنځم فصل ٧٨ مه تر ٨٤ مه ماده پوری ) .

د لويي جرګی د دریو نه دوه برخي غړی د واکمنی دلی ګمارل شوی کسان وه او په هغي کی د ټولنی د بالفعلو متنفذو عناصرو لکه قومی او مذهبی مشرانو ، خانانو او ولسی مشرانو او سیاسی لیډرانو ونډه کمزوری وه .

دودیزي آزادي لویي جرګي د اساسی قانون په منکولو کی ایسارول د اساسی قانون د تدوین کونکو بله لویه تیروتنه وه .

د اساسی قانون د لسیزی مؤسسانو غوښتل چه په هیواد کی د اساسی قانون د لاری د دیموکراسی د ضوابطو د پلی کولو په موخه د حکومتی ستیج خځه ګټه پورته کړي . د دغه مقصد د پاره باید دودیزه لویه جرګه د اساسی

قانون په چوکات کی ایساره شی . دا پداسی حال کی چه افغانی ټولني د هغي ليبرالي ديموكراسى د هضمولو د پاره چه د اساسی قانون له خوا د سوغات په توګه ولس ته ډالي شوی وه وړتیا نه درلوده .

نو دودیزه لویه جرګه چه د پیړیو په اوږدو کی افغانی ټولنی ته سیاسی ثبات ، سوله او دودیزه دیموکراسی وړیه برخه کړی وه ، په سیاسی لوبو کی د واکمنی ډلی لاس ته ولویده : د لویی جرګی رول د واکمنی ډلی او ولس تر منځ د نښلونکي (ارتباطی) پله په توګه منتفی شو .

د ۱۹۶۴ م کال اساسی قانون تنظیم کونکو چه د اټکل له مخي ټولو په لویدیزو هیوادونو کی زده کړي کړي وی او د خپل هیواد د واقعیتونو نه په پوره اندازه خبر نه وو، په اساسی قانون کی د لویی جرګی د جوړښت په ځاي په ځاي کولو سره ، افغانی سیاسی لوبغاړی د لوئي سیاسی او حقوقی معضلی سره مخ کړل : پدغه برخه کی ګڼ شمیر سوالونه رامنځ ته کیږی . د هغی ډلي نه :

ـ ایا په افغانی قبیلوی ټولنه کی مدون حقوق کولای شی د اساسی قانون له لاری، د تعاملی حقوقو ضوابط چه په ټولنه کی ژوری ریښی لری ، له منځه یوسی ؟

ـ د اړتیا په صورت کی د اساسی قانون مدونه لویه جرګه یا د اساسی قانون نه د باندی تعاملی لویه جرګه ، کومي یوي ته باید مراجعه وشی ؟

ـ که په دودیزه ټولنه کی د تعاملی حقوقو ټولنیز او ولسی قوت د مدونو حقوقو په پرتله زیات وی ، نو د ملی ستونځو د حل مرجع حکومتی لویه جرګه او یا دودیزه لویه جرګه وشمیرل شی ؟

### ۳ ـ افراطی لیبرالیزم :

د اساسی قانون مؤسسان په عقیدوی لحاظ د لویدیز لیبرالیزم د فلسفی تر اغیز لاندی وو. د افغانستان اساسی قانون د فرانسی د ځلورم جمهوریت د اساسی قانون سره ورته والی درلود . ( لویی فوژیی فرانسوی حقوقپوه د اساسی قانون د تسوید مشاور وو) اما د دواړو هیوادونو تر منځ اختلاف زیات وو : د فرانسی د ځلورم جمهوریت اساسی قانون د افراطی سیاسی لیبرالیزم په وجه چي د پارلمانی نظام په چوکات کی جوړ شوی وو ، ناکامی سره مخ شو . مګر لاره د پنځم جمهوریت د استقرار د پاره هواره شوه چه په کی په نوی اساسی قانون کی د حکومت واکمني ډیره شوه .

په افغانستان کی د دیموکراسی د لسیزی اساسی قانون چه د پارلمانی نظام په راوستلو کی د هیواد دوهم اساسی قانون ګڼل کیږی د واقعیتونو نه لری د سیاست په بازار کی یو لوکس توکی شمیرل کیده . د داؤد خان د ولسمشری اساسی قانون د حکومت د صلاحیتونو په زیاتوالی سره ، ریاستی نظام اعلام کړ ، او د دیموکراسی لسیزی ته ئي د پای ټکی کیښود .

د اساسی قانون مؤسسانو د فرانسی د ځلورم جمهوریت د سیاسی ګډودی نه د عبرت درس نه وو اخیستی . تیر وتنه تکرار شو .

د ۱۹۶۴کال اساسی قانون په ترڅ کي په یوه لسیزه کی ولس ته ټولي هغه آزادی وروبښل شوي چه په صنعتی پرمختللی هیوادونو کی خلکو د سلګونو کلونو په ترڅ کی ورځخه ګټه پورته کوله. د اساسی قانون موسسان پدی نه وو بریالی شوی چه د دولتی واکمني او ولس ته ډالی شوی آزادیو ترمنځ یوه منځګړی لاره غوره کړی .

افغانانو چه د استبداد د سلګونو کلونو د ولکی په وجه د عقدو څخه ډک دماغونه درلودل د نیک تصادف له مخی د آزادی د نعمت نه برخمن شول . واتونو ته د مظاهرو په موخه وردانګل او مظاهرو د ورځنی ژوند عادی بڼه

غوره کړي وه . په نتیجه کی عامه خدمتونه په ټپه دریدلي او په ځانګړی توګه د زده کړي موسساتو ډیر ورونه وتړل شول. د نوموړو ټولو لمسونو شاته د ( ا ، خ ، د ، ک ) ولاړ وه .

له بل پلوه د دیموکراسی په لسیزه کی ۵ حکومتونو هر یو د دوو کلونو د پاره سیاسی قدرت تر لاسه کړ . په داسي حال کي چه د اساسی قانون د حکم له مخی هر حکومت باید د تقنینی دوری موده یعنی ۴ کاله په اقتدار کی پاتی شوی وای : سیاسی بی ثباتی اوج ته رسیدلی وو .

په لنډه توګه د دیموکراسی په لسیزه کی د ټیټ سیاسی شعور خاوند ولس د سیاسی دلالانو ښکار شو . د ولس د سپیڅلو جذباتو نه ناوړه ګټه پورته شوه، خبره د سردار کودتا ته ورسیده او د هیواد دیرش کلن ناورین پیل شو .

## نتیجه

دیموکراسی د یوی ټولنی د اقتصادی او ټولنیزی ودی لاس ته راوړنه ده چه په کی منځګړی طبقه خپلی غوښتنی په واکمني ډلي باندی تپی .

د ټولنیزي او اقتصادی ودی په موازاتو او د دیموکراسی د تمرین په ترڅ کی قانون ته درناوی ، مخالف نظر زغمل ، لږکي د اکثریت ارادی ته تسلیمیدل ، د شخصی ګټی نه د ملي ګټی لپاره تیریدل په میکانیکی عادت بدلیږی . دغه میکانیزم د دیموکراسی د استمرار عملی زمینه برابروی .

اساسی قانون د یو لوکس توکی په ډول د یو نامساعد چاپیریال د ننه د سلطنت د فرمان له مخی نافذ ، او لس کاله وروسته د جمهوریت د فرمان په وسیله لغوه شو .

هغه دیموکراسی چه په یوه نامساعده زمینه کی د سیاسی مشرتابه د فرمان له مخی یا د بهرنیو خواکونو د زبردستی او بدمعاشی له کبله په ولس باندی تپل کیږی ، تر هغه وخته پوری به دوام ومومی چه د کورنیو او بهرنیو مراجعو بالفعل ملاتړ او حضور شته والی ولری .

« پای »

فرانسه

د نوامبر لسم ، ۲۰۱۰ م کال

* ماده ۲۴ قانون ی د اساس :

« د باچا ځوی ، لور ، ورور ، خور او د دوی ښځی او مړونه او د باچا تره او د تره ځامن باچاهی کورنی ده ... د باچایی کورنی غړی په سیاسی ګوندونو کی ګډون نه کوی او دغه وظیفی په غاړه نه اخلی : صدارت یا وزارت ، د شورا غړیتوب د ستری محکمی غړیتوب ... »